**بسم الله الرحمن الرحيم**

# د کوسوو پېښې او پر اروپا يې اغيزې

(ژباړه)

**پوښتنه:**

په دې وروستيو کې، د کوسوو اقليم سربيانو د دغه اقليم په شمال کې د ميشتو پوليسو او ناټو ځواکونو پر وړاندې پراخ لاريونونه وکړل. سربيا خپل ځواکونه د چمتووالي حالت ته راوستي، چې د اړتيا په صورت کې د سربيايي لړکيو د دفاع لپاره دغه اقليم ته ننوځي.

الجزيرې د نشنل انټرسټ وېبپاڼې په حواله ويلي چې ښايي راتلونکې اروپايي جګړه په کوسوو کې پيل شي. په راپور کې ويل شوي: «د کوسوو د وضعيت او په اوکراين کې د جګړې تر منځ ځينې ورته‌والي شته او له غربي سياستوالو غوښتل شوي چې دِغې مسلې ته پام وکړي. راپور زياتوي: «د کوسوو په شمال کې وروستي ناورين نړۍ ته دا فکر ورکړی چې ښايي د اوکراين وحشيانه جګړه د اروپا اوسني ثبات ته ترټولو لوی ګواښ وګڼل شي، خو دا جګړه په هيڅ صورت يوازينی ګواښ نه دی.» (سرچينه: الجزيره + نشنل انټرسټ، ۲۰۲۳م کال، د جون ۱۰مه)

پوښتنه دا ده چې د دغو پېښو تر شا څه روان دي؟ او لکه څنګه چې د نړيوالو چارواکو له څرګندونو ښکاري، ايا دا شونې ده چې د کوسوو پيښې به په بالکان سيمه کې د جګړې اور بل کړي او په دې توګه اروپايي دولتونه د اوکراين پر جګړې سربېره په يوه بله جګړه کې ښکېل شي؟

**ځواب:**

د کوسوو په شمال کې د اوسنيو ناندريو د اړخونو روښانه کولو لپاره، لاندې موضوعات څېړو:

**لومړی: تاريخي مخينه:**

**۱.** په پنځلسمه پېړۍ کې په بالکان سيمه کې د عثمانيانو تر فتوحاتو وروسته؛ اسلام يوې داسې سيمې ته خپله لار پرانيسته چې د روم دولت هغه مسيحيانو ته ځانګړې کړې وه. آلبانيان چې اوس د آلبان او کوسوو اقليم خلک بلل کيږي، تر فتوحاتو وروسته مسلمانان شول؛ بيا بوسنيايانو چې اوس د بوسنيا او هرزيګوينا خلک بلل کيږي

او په ۱۹۹۲م کال کې يې له يوګوسلاويا څخه خپلواکي ترلاسه کړه؛ اسلام ومانه. وروسته په دې سيمه کې يوه جګړه وشوه؛ په دغه جګړه کې تولوژنه وشوه او زرګونه مسلمانان پکې ووژل شول.

۲. کوسوو د عثماني دولت برخه وه؛ خو په ۱۹۹۲ کې د هغو قومي بېلتون غوښتونکو ناندريو او شخړو په پايله کې له عثماني دولت څخه بېل شو چې انګلستان د بالکان په ټوله سيمه کې پيل کړې وې. وروسته، ډېرو هيوادونو پر کوسوو د حاکميت لپاره سيالي سره وکړه؛ لکه سربيا، تور غره او ايټالوي استعمار، چې کوسوو يې له البانيا سره يو ځای خپله مستعمره کړه. بيا په ۱۹۴۶م کې د يوګوسلاويا واکمن، تيتو تر دويمې نړيوالې جګړې وروسته کوسوو د يوه جوړجاړي په چوکاټ کې له خپلې خاورې سره يوځای کړ او خپلواک حاکميت يې ورکړ. کوسوو همداسې د يوګوسلاويا برخه ګڼل کېده، بيا د شلمې پېړۍ په نهمه لسيزه کې يوګوسلاويا وويشل شوه او په دې توګه کوسوو د يوګوسلاويا له نورو برخو سره له سربيا سره يوځای شو.

د دې لپاره چې کوسوو خپلواکي وا نه خلي، د سربيا بدنام ولسمشر، سلوبودان ميلوسويچ په ډېر ظلم حکومت پرې وکړ او د دوی خپلواک حاکميت يې لغوه کړ. په ۱۹۹۰م کال کې د کوسوو د خپلواکۍ په اړه تر ټولپوښتنې وروسته، په دې سيمه کې تر ۱۹۹۹م کال پورې ډېرې شخړې، ناکرارۍ، تاوتريخوالي او وژنې وشوې. بيا د رامنځته شوي نړيوال وضعيت له مخې د شمالي اتلانتيک هيوادونو ائتلاف يا ناټو په سيمه کې مداخله وکړه؛ پر سربيا يې بمبار وکړ او هغوی يې له کوسوو سيمې څخه وتلو ته اړ کړل. له هغه وخت راهيسې په دې سيمه کې د ناټو ځواکونه د سوله ساتو ځواکونو په توګه مېشت دي.

۳. کوسوو په ۲۰۰۸م کال کې رسماً له سربيا څخه خپله خپلواکي اعلان کړه او د نړۍ ډېرى حکومتونو؛ په ځانګړې توګه امريکا او ډېری اروپايی حکومتونو يې خپلواکي په رسميت وپيژندله. روسيې او سربيا له دې خپلواکۍ سره کلک مخالفت وکړ؛ روسيې او چين په خپلو مخالفتونو له ډېرو نړيوالو سازمانونو سره د کوسوو د يوځای کېدو مخه ونيوله. بيا د ۲۰۲۳م کال د مارچ په ۱۹مه، په اروپايي ټولنه کې د غړيتوب د ژمنې او د اوکراين تر جګړې وروسته د روسيې ښکاره دښمنۍ ښودلو په سبب اروپايي ټولنې اعلان وکړ چې سربيا او کوسوو موافقه کړې چې خپلې اړيکې بېرته عادي حالت ته راوګرځوي او دا به په دې معنی نه وي چې سربيا د کوسوو خپلواکي په رسميت پيژني. دا تړون په اروپايي اتحاديه کې د سربيا او کوسوو د غړيتوب لپاره د دروازې پرانيستو په معنی ۰.

**دويم: تر دغو پېښو وړاندې کورنی او نړيوال وضعيت:**

۱. په ختیځه اروپا کې سربیا د روسیې د نفوذ وروستۍ سیمه ده؛ کله چې سربیا له ناټو سره په جګړه کې ښکېله وه، روسیې مرسته ورسره کوله. یا که ووایو له سربیا څخه د کوسوو د بېلولو لپاره په ۱۹۹۹م کال کې د ناټو مداخله په بالکان کې د روسیې د نفوذ وروستۍ سیمې ته سخته ضربه وه؛ د ناټو مداخلې له خپلو پیروانو څخه په ملاتړ کې د روسیې کمزورتیا په ګوته کړه. روسیې د سربیا ملاتړ ته دوام ورکړ؛ پوځي مرستې یې ورولېږلې، په نړیوالو سازمانونو کې یې سیاسي ملاتړ وکړ او د کوسوو له خپلواکۍ سره یې په قاطعیت مخالفت وکړ. په بوسنیا او هرزګوینا کې یې له سربیا سره د مرستې لپاره د اقتصادي پروژو پیل اعلان وکړ؛ د دواړو هیوادونو د کلیساوو ترمنځ یې اړیکې پیاوړې کړې؛ په بلګراد کې یې د سپوتنیک خبري اژانس اداري لپاره یو لوی رسنیز مرکز جوړ کړ او دا د کړکیچ زیاتولو او د روسیې د مرستو روښانه کولو مرکز شو. خبره ان دې ته ورسېده چې د سربیا مشرانو هڅه کوله د رایو ترلاسه کولو لپاره تر ټاکنو وړاندې د روسیې له ولسمشر، پوتین سره عکسونه واخلي. لنډه دا چې روسیه په سربیا کې او د کوسوو او بوسنیا او هرزیګوینا د سربیانو ترمنځ ډېر نفوذ لري.

۲. وروسته له دې چې روسیې د اوکراین جګړه پیل کړه او پوه شوه چې غربي قدرتونه یې پر وړاندې سره یو ځای شوي دي؛ غرب سربیا ته د نیږدې کېدو هڅې پیل کړې. د ۲۰۲۳م کال په مارچ کې د سربیا او کوسوو ترمنځ د اړیکو د عادي کولو تړون یې تایید کړ او په راتلونکي کې یې د سربیا لپاره په اروپايي اتحادیه او ښايي ناټو سازمان کې د غړیتوب لار هواره کړه. د غرب موخه دا وه چې په نړیواله کچه د روسیې ملاتړي کم کړي؛ دغه موخه یې له ناټو سازمان سره د سویډن او فنلنډ په یو ځای کولو کې هم وه.

په دې توګه غرب او سربیا یو بل ته ډېر نږدې شول؛ تر دې اندازې چې د ۲۰۲۲م کال په مارچ میاشت کې، اروپایی دولتونو د روسیې د بهرنیو چارو وزیر لاوروف ته اجازه ورنه کړه چې سربیا ته د سفر لپاره د اروپا له اسمان څخه تېر شي، چې دغه ممانعت سربیا راوپاروله، لکه څرنګه چې د سربیا د کورنیو چارو وزیر په یوه وینا کې وویل: "سربیا په اروپا کې یوازینی هیواد دی چې پر روسیې یې بندیز نه دی لګولی او د روسیې پر وړاندې د دښمنۍ په جنون کې نه ده ښکېل شوې.» (سرچینه: الیوم السابع، ۲۰۲۳م کال، د اګست ۲۲مه) له دې څرګندونو څخه په ډاګه کېږي چې سربیا د روسیې سره د خپلو اړیکو له امله څومره تر فشار لاندې ده، په ځانګړې توګه دې ته په پام سره چې غربي دولتونو یې پر وړاندې خپلې دروازې پرانیستې دي.

د سربیا پر وړاندې د غرب دروازو پرانیستل او د غرب لوري ته یې راښکته کول هم ښايي پراخې پایلې ترلاسه کړې وي، لکه څنګه چې د عرب سکای نیوز د ۲۰۲۳م کال د مارچ په ۴مه راپور ورکړ: "روسیې د پنجشنبې په ورځ له

خپل متحد سربیا څخه د راپورونو په اړه وپوښتل چې د خپرو شوو راپورونو پر اساس، د بالکان سیمې حکومتونو اوکراین ته زرگونه توغندي سپارلي دي، باید رسماً وضاحت ورکړي. د روسیې د بهرنیو چارو وزارت ویاندې ماریا زاخاروا د هغو راپورونو په اړه "ژوره اندیښنه" څرگنده کړه چې تیره میاشت د روسیې په دولتي رسنیو کې خپاره شول.

که څه هم سربیا د اوکراین په شخړه کې لاسوهنه نه مني، خو پورتني دریځونه ښیي چې سربیا ورو ورو له روسیې څخه ځان لیرې کوي. خو بیا هم په دې لاره کې له خنډونو او ستونزو سره لاس او گریوان ده.

په داسې حال کې چې د اوکراین تر جگړې وروسته د روسیې او سربیا ترمنځ اړیکو نوې بڼه غوره کړې، روسیه چې په سربیا کې دننه پراخ نفوذ لري هڅه کوي چې د سربیا په منځ کې له خپل نفوذ څخه په استفادې د تاوتریخوالي په رامنځ ته کولو سره له روسیې څخه د سربیا د جلا کولو د نفوذ له بهیر څخه مخنیوی وکړي لکه: "د کوسوو حاکم روسیه تورنه کړه چې د کوسوو، بوسنیا او مونټینیگرو د بریدونو په گډون د "سیمې له ویجاړولو" څخه گټه پورته کوي. (سرچینه: انډیپنډنټ عربي، ۲۰۲۲م کال، د ډسمبر ۲۲مه) همدا سرچینه لیکي: "واشینگټن پوسټ ورځپاڼې لیکلي چې په اوکراین کې د روسیې جگړې پراخ کړکیچ رامنځ ته کړی او د شننونکو په حواله یې ویلي چې د روسیې د قومپالنې له څرگندونو څخه د ولسمشر په گډون د یو شمیر مشرانو له لوري تود هرکلی شوی دی، چې یو هم پکې د سربیا ولسمشر الکساندر ووچیچ دی، چې سخت نژاد پرست او د پخواني ولسمشر سلوویډن میلوسوویچ همفکره دی. وال سټریټ ژورنال هم هغه وخت لیکلي وو چې د شمالي اتلانتیک تړون او اروپایي ټولنې د کوسوو او سربیا ترمنځ د وروستیو مخ پر ډېرېدونکو ترینگلتیاوو وروسته د کړکیچ د ارامولو لپاره په چټکۍ سره لاس په کار شول، په داسې حال کې چې په دې اړه اندیښنې شته وې چې ښایي روسیه به د دې دواړ هیوادنو تر منځ له شخړې څخه په کار اخیستلو سره په اروپا کې سوله اخلال کړي.»

۴. ایوانا سټراډنر، د عامه پالیسۍ د څیړنې لپاره د امریکا د پروگرامونو د مرکز یوه څیړونکې، په اوکراین کې د جگړې له پیل څخه وړاندې خبرداری ورکړی و چې روسیه په بالکان کې د گډوډۍ د رامنځ ته کولو نیت لري. هغه په یوه مقاله کې چې "روسیه په بالکان کې له اور سره لوبې کوي" کې لیکلي چې په "فارین افیرز" مجله کې خپره شوې او د ۲۰۲۳م کال د اپریل په ۲۰مه د انډیپنډنټ عرب لخوا هم خپره شوې وه: "لیرې نه گڼم چې د بالکان سیمه به پر یوې نوې ننداري بدله شي چې روسیه به ترې په کار اخیستلو سره د اروپا اتحادیه او ناټو له

ستونزو سره مخ کړي او استدلال به يې دا وي چې اروپا او ناټو خپلې پښې له بړستنې ایستلې دي.» (سرچينه: انډيپنډنټ عربي، ۲۰۲۲م کال، د فبرورۍ ۲۰مه)

له همدې امله، ډېرى وختونه انګېرل کيږي؛ همدا روسيه ده چې په کوسوو کې د اوسنۍ جګړې اور ته لمن وهي ترڅو د اوکراين په جګړه کې له خپلې کمزورۍ څخه د خلکو افکار واړوي او هغه اروپايي هېوادونه چې ورسره دښمني لري، په یوه بله جګړه کې ښکېل کړي، تر څو پر سربيا د خپل نفوذ د ليرې کېدلو بهير ودروي.

**دريم: د وروستيو پيښو واقعيت:**

۱. په کوسوو کې له نږدې دوو مليونو وګړو څخه چې په دې سيمه کې ژوند کوي، د سربيانو شمير له ۱۲۰،۰۰۰ څخه نه اوړي، د دغو سربيانو دربيمه برخه له سربيا سره پر پوله په ښارونو کې ژوند کوي. هغه ښارونه چې د وروستيو شخړو مرکز ګڼل کېږي. په دغو څلورو ښارونو کې "۵۰ زره کسان" ژوند کوي، چې ۹۰ سلنه يې سربيان دي، چې د کوسوو په پلازمينه پرستينا پورې د تړلي حکومت کنټرول په پرله پسې توګه کمزورى شوى دی. تر دې اندازې چې پوليس نه شي کولای د نژادي دلايلو له امله له مجرمينو سره ښکېل شي او ويې نيسي، ځکه چې پر پوليسو تور پورې دی چې سربيان په نښه کوي. د نژادي دلايلو له امله په دې ښارونو کې سربيان پاڅون کوي او له سربيا سره د يوځای کيدو غوښتنه کوي او د سربيا دننه د پولې بلې غاړې ته خلک هڅوي چې د کوسوو سربيانو ننګه وکړي.

۲. د ۲۰۲۲م کال، په اګست کې له سربيا سره په سرحدي ښارګوټو د خپل کنټرول د کارولو لپاره، د کوسوو حکومت داسې قوانين تصويب کړل چې له مخې يې هر وګړی اړ دی چې تذکره ولري او هغه څوک چې موټر لري بايد د شمالي کوسوو ځانګړی نمبر پليټ ولري. د شمالي کوسوو دا عمل د دې لامل شو چې د ښاروالۍ مشران او همدارنګه د پوليسو مشران چې د سربی نژاد وو د ۲۰۲۲م کال د نومبر مياشت کې په ډله ييزه توګه استعفا وکړي، چې په دې سره په ټوله شمالي کوسوو کې لاريونونه پيل شول.

بيا د کوسوو حکومت د ۲۰۲۳م کال په اپريل مياشت کې داخلي ټاکنې پيل کړې، خو سربيانو ګډون پکې ونه کړ او اعلان يې وکړ چې مسلمانو کانديدانو ګټلي دي. سربيان دې پايلې ته په غوسه شول، ځکه دوی نه غواړي د دوی د ښاروالیو ښاروالان د "کوسوو" البانيايي مسلمانان وي. په پايله کې؛ په هر ځای کې ګډوډي وه، د سړکونو له تړلو او نورو اقداماتو نيولې تر دې چې د کوسوو حکومت اړ شو چې خپلو بستونو ته د نوو ښاروالانو د معرفي کولو په بهير کې له امنيتي ځواکونو څخه کار واخلي، سربيانو پر دولتي ودانيو بريد وکړ او د هغوی د نيولو پلان يې درلود، خو ناڅاپه د کوسوو له پوليسو سره مخامخ شول. دوی اجازه نه ورکوله چې د ښاروالۍ ودانۍ ته ننوځي.

لږ وړاندې د سربیا ولسمشر خپل پوځ ته خبرداری ورکړی و او په دې کار سره یې غوښتل ووایي چې د پوځي مداخلې احتمال شته.

۳. خو روسیې هغه کوله چې د اور اچوونکي په توګه وښیي چې چمتو دی له سربیانو سره ډېره مرسته وکړي، لکه څرنګه چې د روسیې د بهرنیو چارو وزارت ویاند د ۲۰۲۳م کال د می په ۲۹مه نیټه له لاریونونو څخه وړاندې په یوه وینا کې وویل: "روسیه په کلکه د کوسوو ټولې پاروونکې کړنې غندي؛ هغه کړنې چې وضعیت یې خورا کړکیچن کړی دی. هغه زیاته کړه: "د سربیا پر وړاندې د پاروونکو اقداماتو مسوولیت د متحده ایالاتو او اروپایي اتحادیې پر غاړه دی." (سرچینه: الیوم السابع، د ۲۰۲۳م کال، د مې ۲۸مه) له مظاهرو وروسته، سرګي لاوروف وویل: په کوسوو کې مخ پر زیاتیدونکی تاوتریخوالی ښايي د اروپا په زړه کې "د یوې لویې چاودنې" پړاو ته ورسیږي. د روسیې د بهرنیو چارو وزیر هم د دوشنبې په ورځ خبریالانو ته وویل: دا وضعیت «خطرناک» دی. هغه خبرداری ورکړ چې ښايي د بالکان په سیمه کې یو لوی اتشفشان رامنځته شي. (سرچینه: صوت الخلیج، ۲۰۲۳م کال، د مې ۳۰مه) همدارنګه، "د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګي لاوروف ټینګار وکړ چې په شمالي کوسوو کې سربیان د خپلو حقونو ترلاسه کولو لپاره مبارزه کوي. هغه وویل چې پوځ د چمتووالي په حال کې دی او پریکړه به د سربیا ولسمشر کوي. (سرچینه: انډیپنډنټ عربي، ۲۰۲۳م کال، د مې ۳۰مه)

۴. د امریکا دریځ د اروپا له دریځ سره ډېر توپیر نه لري، ځکه امریکا، انګلستان، فرانسې، جرمني او ایټالیا یوه ګډه اعلامیه خپره کړه چې په ترڅ کې یې د دې سیمې په شمال کې د تاوتریخوالي د مخنیوي لپاره پر بیړنیو اقداماتو ټینګار وکړ. (سرچینه: پر انټرنیټ د برتانیا حکومت ویب پاڼه، ۲۰۲۳م کال، د مې ۲۶مه)

انګلستان ټینګار کاوه چې د پلازمېنې پرستینا په سیمه کې د مرکزي ځواکونو مشري - چې په ۱۹۹۹م کال کې د ناټو د مداخلې په ترڅ کې د ناټو تر چوکاټ لاندې سیمې ته ننوتلې - باید د انګلستان په لاس کې وي او په ناټو کې انګلستان لومړی حکومت و چې د کوسوو له خپلواکۍ وروسته یې دکوسوو پلازمینې پریستنیا ته خپل سفیر واستاوه. (سرچینه: د سیوا راډیو ویب پاڼه، ۲۰۰۸م کال، د فبرورۍ ۲۱مه). امریکا هم پنځه میاشتې وروسته خپل سفیر هلته واستاوه (سرچینه: الیوم السابع، ۲۰۰۸م کال، د جولای ۱۹مه).

بلینکن د پریسټینا چارواکو پریکړه د سیمې په شمال کې اداري مرکزونو ته د ښاروالیو د ښاروالانو د استولو لپاره د امنیتي ځواکونو په کارولو سره "د تاوتریخوالی د چټک او غیر عادلانه ډېروالي لامل" بللې. (سرچینه: RT، ۲۰۲۳م کال، د مې ۳۱مه) همدارنګه، "د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن د سربیا او کوسوو مشران وهڅول چې ژر تر ژره تاوتریخوالی کم کړي او خبرداری یې ورکړ چې د اروپا سره د یوځای کیدو خوبونه

له خطر سره مخامخ کوي." بلینکن په اوسلو کې د ناټو د خبرو پر مهال خبریالانو ته وویل، "موږ د کوسوو او سربیا له حکومتونو څخه غواړو چې ژر تر ژره د کړکیچ د پای ته رسولو لپاره کار پیل کړي." (سرچینه: الجزیره نېټ، ۲۰۲۳م کال، د جون ۲مه).

۵. ډېر احتمال شته چې د غرب دغه دریځونه د کړکېچ د کمېدو لامل شي، ځکه په داسې حال کې چې د کوسوو لومړي وزیر البین کورتي سخت او شدید دریځونه درلودل، ناڅاپه له دغو دریځونو راښکته شو او نرمښت یې وښود. "د کوسوو لومړي وزیر البین کورتي په یوه بیان کې وویل چې هغه هڅه کوي د کوسوو د ټولو سربیانو دفاع وکړي او ټینګار یې وکړ چې دوی حق لري په سوله ییز ډول خپل غږ پورته کړي. هغه زیاته کړه: په کوسوو کې واک د ناوتریخوالي له لارې نه، بلکې د ټاکنو له لارې ترلاسه کیدلای شي. "کورتي د کوسوو په شمال کې د وروستیو ناوتریخوالو د مخنیوي لپاره د ښاروالیو لپاره د نویو ټاکنو د پیلولو وړاندیز وکړ." (سرچینه: الجزیره نیټ، ۲۰۲۳م کال، د جون ۲مه) ورته مهال، د فرانسې ولسمشر مکرون او د آلمان صدراعظم شولتز د مالدیف ناسته کې د کوسوو پر ولسمشر فشار راوړی چې د ناوتریخوالی کمولو لپاره د سربیا له ولسمشر سره وګوري او خبرې ورسره وکړي.

٦. له پورته ټولو خبرو داسې ښکاري چې روسیه، په سربیا کې د خپل نفوذ سربیره، د کوسوو په اقلیم کې د ناوتریخوالي د زیاتولو توان لري، ځکه په سربیا او د کوسوو په سیمه کې د سربیانو ترمنځ ډېرى اغیزې او عوامل شته. روسیه غواړي د اوکراین په جګړه کې د خپلې کمزورۍ د پټولو لپاره دغه کړکېچ ته لمن ووهي او همدارنګه غواړي پر سربیا د نفوذ د لیرې کېدو د بهیر مخه ونیسي. خو اروپایی حکومتونو او امریکا د شخړو له پیل څخه یې د مخنیوی هڅه وکړه او امریکا او اروپایی دولتونه په دې لټه کې وو چې ژر تر ژره د دغو شخړو اور مړ کړي.

څلورم: په لنډه توګه، روسیه په کوسوو کې له هغه کړکیچ څخه لیرې نه ده چې د کوسوو سربیانو له خوا پیل شوې او سربیا یې پارولې. روسیې هیله درلوده چې دا کړکیچ به غرب ته په دې دلیل پام واړوي چې ناټو په کوسوو کې حضور لري او په دې توګه به د سربیا او کوسوو ترمنځ جګړه پیل شي او غرب او ناټو به د دې جګړې په منځ کې ښکېل شي. د روسیې موخه دا وه چې د امریکا او د شمالي اتلانتیک د تړون د سازمان (ناټو) تمرکز د روسیې او اوکراین ترمنځ د جګړې د ډېرېدو په اړه کم کړي. داسې ښکاري چې امریکا او غرب د روسیې دغه هدف درک کړی او په خپل ټول توان سره هڅه کوي چې د سربیا او کوسوو تر منځ وضعیت ارام کړي، ځکه دوی دواړو لورو ته په اشارې سره ویلي چې له اروپایي ټولنې او بیا ناټو سره یوځای کېدل شوني دي، خو په دې شرط چې د دغو کړکېچونو په پای ته رسولو کې له یو بل سره همکاري وکړي. لکه څنګه چې د چارواکو په ځانګړې توګه د امریکا

او کوسوو د چارواکو څرګندونې مو پورته یادې کړې، داسې ښکاري چې امریکا او غرب په دې کار کې بریالي شوي دي.

د یادو شویو پېښو د پایلو، اغېزو او جریان په اړه زموږ اغلب ګومان دغه و.

په آخرکې باید وویل شي چې کوسوو لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، د عثماني دولت یوه برخه وه او د دې خاورې خلکو ډېر پخوا اسلام منلی و. که مسلمانانو هماغه د خلافت دولت له لاسه نه وای ورکړی چې د استعماري کفارو د ظلمونو پر وړاندې یې ترې ملاتړ کاوه، نن به چارې د دغو کفري او استعماري حکومتونو په لاس کې نه وې، چې د بالکان او کوسوو برخلیک یې په لاس کې اخیستی او پر دغو ځمکو چې یو وخت یې د اسلام بیرغ رپاوه، حاکم دي.

له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې د اسلامي امت کړاو ته د پای ټکی کېږدي او د خلافت په بیا تاسیس سره دا امت خپل ورک شوی وقار او عزت بیرته راوګرځوي!

**﴿وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ (۴) بِنَصْرِ اللهِ يَنْصُرُ مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ﴾**

**ژباړه:** *«او په هغه ورځ به مسلمانان د الله تعالی د مرستې له امله خوشاله شي. الله تعالی له هر هغه چا سره مرسته کوي چې خوښه یې شي، هغه برلاسی او پوره رحم لرونکی دی»* [روم: ۴-۵]

**۱۴۴۴هـ.ق کال، د ذي القعدې ۱۲مه**

**۲۰۲۳م کال، د جون ۱۱مه**

**ژباړه: فریدون محتاط**